# د افغانستان سره د آلمان همکاری

# مطبوعاتی خبر

د جنسیت موضوعګانې – د ښوونې او روزنې منسوبین په ښوونې او روزنې کې د جنسیت پر بهیر بحث ګوي

د کابل په دوه ورځنۍ ورکشاپ کې چې د افغانستان سره د آلمان همکارۍ او سویس پراختیايي اداري لخوا جوړه شوې وه، ۴۵ کارپوهانو د ښوونې او روزنې په سیستم کې د پالیسۍ له پلوه د جنسیت برابرۍ پر موضوع بحث ترسره کړ. د ښوونکو روزنې ریاست لپاره، د جنسیت بهیر پر ماډلونو د ښوونې او روزنې وزارت نارینه او ښځینه تخنیکي کارپوهانو بحث وکړ.

د۲۰۱۴ زیږد یز کال د اګست له ۵ مې تر ۷ مې د ښوونې – روزنې وزارت ۴۵ منسوبین د یو ورکشاپ په ترڅ کې سره کېښناستل چې په ښوونې – روزنې کې په عملي توګه د جنسیت برابرۍ عملي تګلارو په ترسره کولو بحث ترسره کړي. د ورکشاپ په پرانیستونکې وینا کې ښاغلي اکبر حمیدي د ښوونکو د روزنې ریاست مرستیال د جنسیت اړخ پر غوراوي (اهمیت) د ښوونې او روزنې د پلان جوړولو کړنلارې (پالیسي) له هماغه پیل څخه ټینګار وکړ، هغه زیاته کړه: دا یو فرصت دی چې د دې حساسه موضوع په باره کې خبرې وکړو.

د ورکشاپ په لومړۍ ورځ ۲۵ تخنیکي غړي سره یو ځای شول چې د یو نارینه په څېر د جنسیت پر مفهوم بحث وکړي. د وی څرګنده کړه چې نارینه جنس د ښوونې – روزنې د پلان جوړولو په برخه کې د ښوونې – روزنې پالیسۍ په ټول هیواد کې څنګه تراغیز لاندې راوستلي شي. ښاغلي بسم الله عابدي، د ښوونکو د روزنې ریاست د څارنې او ارزونې مسوول د تبصرې په ترڅ کې وویل: ما مخکې تر دې د جنسیت اړوند په ډېرو ورکشاپونو کې ګډون کړی خو څه چې هغه د دې ورکشاپ په اړه خوښوي هغه دا دی چې اصطلاح ګانې د افغاني روحیې د ټولنیزو ارزښتونو سره سمې چمتو شوې او د اسلامي اصولو پر بنسټ تشریح شوې دي.

پرهغه تنګ نظریو چې د انګریزي کلمې (جندر) په اړه په افغاني ټولنه کې لیدل کیږي، په زړه پورې بحث ترسره شو. برخه والو د دري کلمې "همیاري اجتماعي" چې معنا یې ټولنیز ګډه مرسته ده، د دري مناسبه کلمه و نوموله چې مفهوم رانغاړي او کله چې د جنسیت پر مفاهیمو د لومړي ځل لپاره بحث ترسره کیږي د منفي کړو وړو څخه په ډډه کولو کې مرسته کوي.

د ورکشاپ پر دوهمه ورځ نارینه برخه والو د ښوونکو روزنې ریاست له ۲۰ ښځینه مسلکي غړیو سره یو ځای د جنسیت پر معنا او د جنسیت پر اصلي بهیر، چې عملي بڼه ولري او په ورځنی ژوند کې پلې کیدای شي، بحث وکړ. د ځانګړو شاخصونو جوړول چې د ملي پالیسۍ په کچه د کارپر مهال د جنسیت برابرۍ څنګه اندازه کړي، د بحث موضوع وه.

د ښوونکو روزنې ریاست په ۲۰۱۲ زیږد یز کال کې د جنسیت یو ټیم جوړ کړی چې د ښوونکو روزنې په ترڅ کې د جنسیت مسلوته د جنسیت پراځه لارو (ستراتیژۍ) پر بنسټ، چې د ښوونکو د روزنې بیلابیلې خواوې رانغاړي، پاملرنه وکړي. په راتلونکې اونۍ کې به د ښوونکو ریاست اداري چاروا کو ته د جنسیت یوه دوه ورځنۍ روزنه ورکړل شي.

ورکشاپ د افغانستان لپاره د بنسټیزې زده کړې پروګرام (BEPA) په مرسته جوړ شوی و چې د سویس ګډې مرستې (SDC)، د المان د مالي ګډې مرستې او پراختیا وزارت (BMZ) او د افغانستان د پوهنې وزارت لپاره د Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH له خوا پلي شو. د دې پروګرام موخه دا ده چې د ښوونکو روزنې او په ښوونې – روزنې کې د جنسیت برابرۍ لپاره ښه بنسټ جوړ کړي.